مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدصدیق ننګ

۲۰۲۶/۰۶/۱۶

# غـزل

زړګی مي تنګ دی په اور ولاړ یم
نصیب مي جنګ دی په اور ولاړ یم

د فقر رنګ دی ،بوټی د بنګ دی
خوار مي ملنګ دی په اور ولاړ یم

لکه زما مین دی تل په رڼا مین دی
وریت مي پتنګ دی په اور ولاړ یم

لوګی لوګی یم سپند مانوګی یم
یار مي ګلرنګ دی په اور ولاړ یم

ډېر په هوا ګرځي هم بې پروا ګرځي
جانان مي دنګ دی په اور ولاړ یم

پلار د نیرنګ دی زوی د فیرنګ دی
میر مي اورنګ دی په اور ولاړ یم

څو انتقام وانخلي قصور د قام وانخلي
اوتر مي ننګ دی په اور ولاړ یم.

محمدصدیق ننګ د جون میاشت 2026 م کال



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ